Action For Refugees In Lewisham

F3, 2nd Floor
Leemore Central Community
Hub
Bonfield Road
Lewisham SE13 5ES

بې اجازې کار کول – معلوماتي پاڼه

دا سند د لیوشام اکشن فار ریفیوجیز *(AFRIL)* لخوا چمتو شوی، چې یوه ټولنیزه اداره ده چې په سویل ختیځ لندن کې د پناه غوښتونکو، کډوالو او هغو مهاجرینو ملاتړ کوي چې له "بې‌ثباتۍ" سره مخ دي. دا معلومات قانوني مشوره نه ده، بلکې لارښوونه ده ترڅو پناه غوښتونکي پرې وکولی شي آګاهانه پرېکړې وکړي او خپلو حقوقو ته لاسرسی وموميِ.

د انګلستان حکومت د هغو **پناه غوښتونکو په وړاندې د مبارزې اعلان کړی چې د کار کولو قانوني حق نلري.** هوم آفس د خوړو رسولو شرکتونو لکه **ډیلیورو، اوبر ایټس او جسټ ایټ** سره یوه نوې ملګرتیا لري، چې له مخې یې پناه غوښتونکي په ټنه کوي او د کار کولو جوازونه یې ارزوي. دا خطر یوازې **د پناه غوښتونکو پورې محدود نه دی،** بلکې ټول هغه کسان چې بې اجازې کار کوي، له دې سره مخ دي. د **مهاجرت افسرانو له خوا د کار ځایونو،** لکه ساختماني ځایونو، پارکینګونو، د موټرو مینځلو ځایونو، دوکانونو او د نوکانو د سینګار سالونونو پر ضد د چاپو شمېر زیات شوی دی.

د 2016 د مهاجرت قانون له مخې، **په انګلستان کې د اجازې پرته کار کول یو جنایي جرم دی.** که چېرې تاسې وموندل شي چې تاسو له اجازې پرته کار کوئ نو ممکن محاکمه شئ. هوم آفس ویلي دي چې هغه کسان چې له اجازې پرته کار کوي ممکن د **پناه غوښتنې د ملاتړ استوګنځي** او د ژوند د لګښتونو د تادیاتو حق له لاسه ورکړي. دا ستاسو د پناه غوښتنې په ادعا هم **اغېزه** کولی شي.

ډېر هغه خلک چې په انګلستان کې د پناه غوښتنه کوي د کار کولو حق نلري. که چېرې ستاسې د پناه غوښتنې پرېکړه 12 میاشتې وځنډېږي او دا ځنډ ستاسې له خوا نه وي (مثلاً د هوم آفس یوې غوښتنې ته مو ځواب نه وي ځنډولی)، نو تاسې کولی شئ هوم آفس نه د کار کولو اجازې لپاره غوښتنه وکړئ. دا ممکن د لومړۍ دعوې له 12 میاشتو وروسته وي، یا هم 12 میاشتې له هغه وروسته چې نوي اسناد مو تسلیم کړي وي. که ستاسې پناه غوښتنه رد شوې وي او تاسې اپیل کړی وي، نو تاسې د کار کولو لپاره غوښتنه نشئ کولی.

زه څنګه کولی شم د کار کولو اجازه وغواړم؟

که تاسې د پناه غوښتنې د پرېکړې لپاره له یو کال راهیسې انتظار باسئ، د کار کولو اجازې غوښتونکي اوسئ، او وکیل لرئ، نو ښه به دا وي چې وکیل ته ووایاست چې له تاسې سره د غوښتنلیک په ډکولو کې مرسته وکړي.

که وکیل نه لرئ، تاسې کولی شئ د کار د اجازې لپاره غوښتنلیک (PTW1) په ډکولو سره خپله دا غوښتنه وکړئ. د پاتې کېدو د حق ټول کیټ

Action For Refugees In Lewisham

F3, 2nd Floor
Leemore Central Community Hub
Bonfield Road
Lewisham SE13 5ES

ګټوري مشوري او لارښوونې د دې د ترسره کولو لپاره لري.
/https://righttoremain.org.uk/applying-for-permission-to-work-asylum

که تاسي ته د کار کولو اجازه درکړل شي، نو یاد ولرئ چې یوازې هغو دندو کې به تاسي ته اجازه وي چې د ایمیګریشن سیلری لیسټ برخه وي
(https://www.gov.uk/government/publications/skilled-worker-visa-immigration-salary-list/skilled-worker-visa-immigration-salary-li). په دې لیست کې هغه دندې شاملې دي چې په انګلستان کې د کارکوونکو کمښت لري – ځینې ډېر تخصصي دي، خو ځینې د لاسرسي وړ دي، لکه د پاملرنې یا ساختماني کارونه.

<u>د کار کولو اجازه به زما پر پناه غوښتونکو مرستو څه اغېز ولري؟</u>

پناه غوښتونکي باید "بې وسه" وي (یعنې په راتلونکو 14 ورځو کې د خپلو بنسټیزو اړتیاوو پوره کولو وس نه لري)، تر څو د پناه غوښتونکو له مرستو برخمن شي. که تاسي کار کوئ او ستاسي عاید له هغه مرستو څخه زیات وي چې تاسي ته یې هوم آفس درکوي (9.95£ که خواړه درکول کېږي یا 49.18£ که تاسي خپله پخلی کوئ)، نو هوم آفس به ستاسي مالي مرستې بندې کړي. دا په دې خاطر چې تاسي نور قانوناً بې وسه نه یاست. که ستاسي عاید دومره نه وي چې شخصي کور کرایه کړئ، او تاسي د کرایې حق هم نه لرئ، نو ممکن هوم آفس درڅخه وغواړي چې د استوګنې په لګښتونو کې مو برخه واخلئ.

که تاسي په لیوشام کې یو پناه غوښتونکی یاست او د دې په اړه مشوره غواړئ، نو له AFRIL سره اړیکه ونیسئ.

<u>که زه د اجازې پرته د کار کولو پر مهال ونیول شم، څه باید وکړم؟</u>

که تاسي د اجازې پرته د کار کولو په حالت کې ونیول شئ، مهمه ده چې **ژر تر ژره قانوني مشوره واخلئ.** تاسي حق لرئ چې پولیس یا د هوم آفس چارواکي درته ژباړونکی برابر کړي.

د هغو کسانو لپاره چې په جرمونو تورن دي وړیا قانوني مشوره شتون لري، چې د لیګل ایډ لخوا تمویلیږي. تاسي کولی شئ پخپله خوښه وکیل وټاکئ؛ **دا ضروري نه ده چې د پولیسو له خوا درته ټاکل شوی وکیل ومنئ.** لاندې د ځینو پېژندل شویو جزایي وکیلانو معلومات دي:

- کامنز لا- Commons Law- 020 3865 5403
- هاج جونز اینډ الین- Hodge Jones & Allen - 0808 274 8226
- ټي وي ایډواردز- TV Edwards - 020 3440 8000

که تاسي د مهاجرت وکیل لرئ، نو باید هغوی ته خبر ورکړئ، تر څو ستاسي پر کېس د احتمالي اغېزې په اړه در ته لارښوونه وکړي.